Center for
Prevention Programs
and Partnerships

# د دری-عددي تلیفوني کرښو د کارولو سپړنه

## مخنیوونکي سرچینه

جولای ۲۰۲۴

# د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ په مخنيوي کې د درې-عددي تليفوني کرښو د کارولو سپړنه

## په متحده اياالتو او کاناډا کې د اوسنيو څېړنو او تمرينونو تلفيق

**محدوده او لنډيز:** دا راپور د شته څېړنې او پروګرام جوړولو د هڅو په اړه يوه مجموعي ارزونه وړاندې کوي، تر څو د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي (TVTP) معلومات او تمرين په درې-عددي تليفوني کرښو کې سره راټول کړي، لکه د 211 او 311 مرستندوی او معلوماتي تليفوني شمېرې او همدا راز 911 او 988 بېړنۍ او د بحران د ملاتړ کرښې. تر هدف لاندې مخاطبانو کې يې د حکومت پاليسي جوړونکي، د ټولنې مشران، د عامه خونديتابه چارواکي، او د عامې روغتيا ډاکټران شامل دي. د څېړنې او پروګرامونو لنډو تشريحاتو ته په دې لارښود کې ځای ورکړل شوی دی، چې مالي تمويل يې په بنسټيز ډول د کورني امنيت د وزارت (DHS) ساينس او ټيکنالوژي (S&T) او د مخنيوي د پروګرامونو او مشارکت د مرکز د رياست (CP3) TVTP د مالي مرستې د پروګرام له خوا کېږي. په ټوله شمالي امريکا کې د دې تمرين د راڅرګندېدو د ښودلو لپاره د کاناډا يوې بېلګې ته ځای ورکړل شوی دی. په شريکه سره، دا پروژې په ګڼو مهمو فرصتونو رڼا اچوي، تر څو د TVTP لپاره د درې-عددي تليفوني کرښو څخه ګټه واخيستل شي، د اړوندو پېښو د پېژندګلو په موخه د تليفوني کرښې د مديرانو لپاره د تخصصي روزنې د اړتيا؛ اړيکه نيونکو ته د وړاندې کولو په موخه د تليفوني کرښې د مديرانو لپاره د راجع کولو اړوندو معلوماتو ته وده ورکولو؛ د هدفي تاو تريخوالي او ترهګرۍ اړوند د خطر ارزونې او مديريت د اختياراتو په اړه د بيدارۍ د ډاډمنتيا په موخه د لومړيو ځواب ويونکو يوې پراخې لړۍ ته روزنه ورکولو؛ او په اوږد مهال کې، د عامه پلان جوړونې هڅې کولو په ګډون، تر څو د سيمه ييزو سرچينو نقشه جوړه کړي، تشې په نښه کړي، او حل لارې وړاندې کړي، چې وکولای شي اړوندو افرادو لپاره د مداخلو بشپړ طيف ته رسېدګي وکړي. دا پروګرامونه همدا راز د عامه خونديتابه او ټولنيز ښه والي په اوسني پروګرام کې د TVTP د هڅو د مدغم کولو د يو فرصت استازولي هم کوي.

عدم مسئوليت: لاندې راپور يوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی دی، تر څو په دې اړه بېلګې وړاندې کړي، چې په شمالي امريکا کې، د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي معلومات او کړنې څه ډول د درې-عددي اړيکې په کرښو کې شامل شوې دي. مهرباني وکړئ، په خاصو سيمو کې د پروګرام په اړه اوسنيو، او تازه معلوماتو لپاره د سيمه ييزو او اياالتي کارمندانو سره مشوره وکړئ. د هغو پروګرامونو او څېړنو يادونه په مراجعو او متن کې شوې ده، چې فدرالي مالي مرسته يې تر لاسه کړې. د غېر فدرالي ادارو حوالې يوازې د انځورولو او د بېلګې د موخو لپاره دي، او د متحده اياالتو د کورني امنيت وزارت يا فدرالي حکومت له خوا د غېر فدرالي ادارې تاييد نه کوي.

**مننه:** د مخنيوي د پروګرامونو او مشارکتونو مرکز د ټولنې د شريکانو او کارپوهانو څخه مننه کوي، چا چې د تېر کال په اوږدو کې، د ټولنې د ليوالتياوو په توګه غونډې وکړې او د مختلفو ناستو له لارې يې خپلې ملاحظې وړاندې کړې.

**اصطلاحات:** د مخنيوي د لاندې سرچينې په حالت کې، د مرستې درې-عددي تليفوني کرښې د اړيکو هغو کرښو ته اشاره کوي، د کومو له لارې چې هغو اړيکه نيونکو ته معلومات او د راجع کولو خدمات وړاندې کېږي، څوک چې خپلو ځانونو يا يو بل اړوند شخص ته د سرچينې غوښتنه کوي. ښايي چې مرستندويه تليفوني کرښې د معلوماتي تليفوني کرښو سره توپير ولري، د کومو موخه چې تر ډېره بريده د قانون پلي کونکو ته د شکمن فعاليت په اړه خبر ورکول دي. ټولې مرستندويه تليفوني کرښې تر يو حده د بحران په حالت کې ملاتړ چمتو کوي.

**د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ تعريف:** هدفي تاوتريخوالی او ترهګري ټولو ټولنو ته ګواښ دی. DHS هدفي تاوتريخوالی له مخکې څخه پر کوم ځانګړي شخص، ډلې، يا ځای، د محرک په نظر کې نيولو پرته، د تاوتريخوالي پلان شوي هدفي عمل ته وايي، کوم چې د متحده اياالتو، يا د متحده اياالتو د کوم اياالت يا فرعي دولتي تشکيلاتو د جزا د قانون څخه سرغړونه وي. په هدفي تاوتريخوالي کې د پلان کولو يو حد يا له مخکې څخه په نښه شوی هدف شامل وي، لکه يو شخص، د خلکو يوه ډله، يا شتمني. عموماً داسې برېښې چې د دې کړنو موخه پر اړوند هدف سربېره، د پراخه نفوس وېرول، پر هغوی تېری کول، يا په

بل ډول اغېزمن کول وي، يا ښايي هدف يې دا وي چې کوم شکايت ته شهرت ورکړي.[1] په ترهګرۍ کې جنايي غېر قانوني کړنې شاملې دي، چې د انسان ژوند ته خطر لري، يا په بالقوه ډول د مهمو زېربناوو يا مهمو سرچينو لپاره ويجاړونکې وي، د کوم هدف چې د ملکي نفوس وېرول يا پر هغوی تېری کول؛ د وېرولو يا تېري کولو له لارې د حکومت په پالیسۍ اغېز پيدا کول؛ يا د ډله ييزې ويجاړې، وژنې، يا تښتونې له لارې د حکومت يو کار متاثر کول وي.

**په متحده ايالاتو کې درې-عددي تليفوني کرښې:** درې-عددي تليفوني مرستندويه کرښې، له دوی سره اړيکه نيونکي خلک د ټولنې د سرچينو او مرستې لور ته رهنمايي کوي. په ټولو متحده ايالاتو کې د مرستندويه تليفوني کرښو يوه پراخه زېربنا شته. 211 شمېره، په 2000 کال کې د ارتباطاتو د فدرالي کميسيون (FCC) له خوا د معلوماتو او راجع کولو د خدماتو د شمېرې په توګه وټاکل شوه، دا په ټولو 50 ايالتونو کې موجوده د اړيکې يوه تليفوني کرښه ده، چې خلک د اساسي اړتياوو د پروګرامونو لپاره له سرچينو سره وصل کوي، لکه مېشتېدل او د کار موندنې معلومات، د دې تر څنګ د بېړنيو، معلوماتو، د ناورين پر مهال د مرستې او روغتيايي خدماتو معلومات. United Way Worldwide، د 211 شمېرې ملاتړې غېر انتفاعي اداره ده، دا اداره وايي چې ياده شبکه په کلنۍ ډول له 20 ميليونه متقاضيانو څخه زياتو تقاضاوو ته ځواب وايي.[2] د بحران په نورو مرستندويه تليفوني کرښو کې د ځان وژنې او په بحراني حالت کې مرستندويه تليفوني کرښې شاملې دي، دا د سيمه ييزې او ايالتي مالي مرستې څخه برخمنه د بحرانونو د مرکزونو يوه شبکه ده، چې په 2005 کال کې د نشه يي موادو د ناسم استعمال او رواني روغتيايي خدماتو د ادارې (SAMHSA) له خوا پر لار اچول شوې ده، او د Vibrant Emotional Health په نوم د يو غېر انتفاعي سازمان له خوا اداره کېږي.[3] په 2022 کال کې، اصلي 800-1 شمېره په اوسنۍ درې-عددي بڼه يعنې 988 بدله شوه. نن ورځ، دا تليفوني کرښه، اړيکه نيونکي، د اړيکې، لیکلي پيغام او مستقيمو خبرو له لارې د بحراني حالت لپاره روزل شويو سلاکارانو او سرچينو سره وصل کوي، سربېره پر دې، د سرتېرو لپاره هم يوه بحراني تليفوني کرښه چمتو کوي. بله بېلګه يې د بحران پر مهال د ليکلي پيغام کرښه ده، دا يوه نړيواله غېر انتفاعي تليفوني کرښه ده، چې هره ورځ څلور ويشت ساعته (7/24) د ليکلي پيغام له لارې د رواني روغتيا او بحران پر مهال ملاتړ چمتو کوي.

په چټکۍ سره، بېړني خدمات او د اړيکو هغه تليفوني کرښې چې له دوی څخه ملاتړ کوي، له نورو ادارو سره مشارکت لري، لکه ټولنيز خدمات او د چلند اړوند روغتيا خدمات، تر څو له اندېښنو سره مخ خلکو ته، د شريک ځواب ويلو پروګرامونه[4] وړاندې کړي، کوم چې د پوليسو او روغتيايي پوهانو څخه جوړ دي. ښايي چې سيمه ييز حکومتونه نورې درې-عددي تليفوني کرښې فعالې کړي، لکه د 311 غېر بېړنيو حالاتو د مرستې تليفوني کرښه[5] يا د درې-عددي خدماتو يوه جلا تليفوني کرښه چې روغتيايي مرستې ته د لاسرسي لپاره ده.[6] کله چې اړينه وي، مرستندويه تليفوني کرښې له بېړنيو کرښو سره همغږي کوي، لکه 911 شمېره[7].

سره تعامل لري. خو دا نبغ TVTPد متحده ايالاتو د غېر انتفاعي ادارو له خوا اداره کېدونکې تليفوني کرښې هم شته، چې له په نبغه د عامو درې-عددي تليفوني کرښو سره تړلې نه دي، ځينې يې د راجع کولو خدمات وړاندې کوي. په متحده ايالتو کې » اداره، د عامې روغتيا يو غېر انتفاعي سازمان دی، چې د هدفي تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره د ټولنو Parents for Peaceد « او کورنيو پر توانمندۍ تمرکز لري، له 2017 کال راهيسې يوه محرمه مرستندويه تليفوني کرښه اداره کوي، او په 2023 کال

---

1 د بېلګې په ډول وګورئ، د 2024 کال لپاره د هدفي تاوتريخوالي او د ترهګرۍ د مالي مرستې پروګرام د مالي تمويل د فرصتونو د خبرتيا لپاره لاندې ويبپاڼې ته مراجعه وکړئ https://www.dhs.gov/sites/default/files/2024-04/24_0415_cp3_tvtp-fy24-nofo.pdf .

2 211 له | United Way Worldwide

3 ليدنه وکړئhttps://www.samhsa.gov/newsroom/press-announcements/202106161430له

4 . د پوليسو او رواني روغتيا د ډاکټرانو Puntis S, Perfect D, Kirubarajan A, Bolton S, Davies F, Hayes A, Harriss E, Molodynski A له خوا په سرکونو د شريکو ځواب ويونکي د ماډيولونو يوه منظمه بيا کتنه.BMC Psychiatry؛15 اګست 2018 .18(1):256. doi: 10.1186/s12888-018-1836-2. PMID: 30111302; PMCID: PMC6094921.

5 کوډونو کارول او د نورو لنډيزونو د ډايل کولو ترتيبات |د فدرالي ارتباطاتو کميسيون N11 د .

6 Info-Santé 811 | Gouvernement du Québec (quebec.ca)

7 د کورني امنيت د وزارت د ساينس او ټيکنالوژۍ رياست، "د ليکلي پيغام پر اساس د فعالې شوې، د خطر سره د مخ خلکو د مداخلې د مرستندويه تليفوني کرښې د راجع کولو د سيستم تګلارې او کړنلارې،"3.

د ټولنيز اغېز يو Moonshot يوه مالي مرسته تر لاسه کړه، تر څو دې تليفوني کرښې ته پراختيا ورکړي.[8] TVTP کې يې د شرکت دی، چې له سخت دريځه تاوتريخوالي سره مبارزه کوي، همدا راز په اونۍ کې څلور وېشت ساعته (7/24) د ليکلي پيغام يوه مرستندويه تليفوني کرښه لري، چې د بحران پر مهال د ليکلي پيغام له کرښې سره په شراکت جوړه شوې ده، کومه Parents for چې هغو افرادو ته په بحراني حالت کې د مشورې ناستې برابروي، څوک چې د تاوتريخوالي په اړه فکر کوي.[9] د هڅو د ملاتړ لپاره فدرالي TVTP دواړو ادارو د مرستندويه تليفوني کرښې پر پراختيا سربېره د خپلو Moonshot او Peace مالي مرسته تر لاسه کړې دی.

**د عيني شاهد راپور ورکول او دوه زړيتوب:** کورنۍ او ملګري، چې کله کله "صميمي عيني شاهدان" بلل کېږي، په داسې موقعيت کې وي، چې خبرداری ورکونکې نښې ويني، چې ښايي يو شخص د تاوتريخوالي پر لاره روان دی. په هر حال، څېړنو ښودلې ده چې صميمي عيني شاهدان په دې کې دوه زړي وي چې د يو چا په اړه د قانون پلې کونکې ادارې ته راپور ورکړي، او دا وېره لري چې دوی به په ستونزه کې ښکېل شي، يا له دې وېره لري چې ښايي اړوند به خبر شي چې اړيکه نيونکې دوی ته خبر سرچينې په حرکت راولي، TVTPورکړی دی.[10] څېړنې دا هم ښيي چې ښايي اړوند اشخاص دا ننګونې او سختې وګڼي چې د د 2021 کال په يوه څېړنه کې، چې د عدالت د ملي[11] په ځانګړې ډول د دې پرېکړې پر مهال چې دوی چېرته راپور ورکړي. انستيتيوټ له خوا تمويل شوې وه، وموندل شوه چې عيني شاهدان غوره بولي مخامخ يا د تليفون له لارې راپور ورکړي، نه د ويبسايټ د طريقو له لارې راپور ورکول.[12] د عيني شاهد د راپور ورکولو په اړه په دوه څېړنو کې، ځواب ويونکو د مخنيوي د وسايلو او معلوماتو ته لارسي کې د زياتوالي هيله څرګنده کړې وه.[14][13] په شريکه، درې-عددي مرستندويه تليفوني کرښې کولای شي صميمي عيني شاهدانو ته په لومړي ګام کې په بې نومه ډول سهولت مهيا کړي، کوم چې له دوی سره مرسته کولای شي چې د اړوندو او سيمه ييزو مداخلو سرچينو په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولري.

**په درې-عددي مرستندويه تليفوني کرښو کې د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي ادغام:** د درې-عددي تليفوني کرښو يو کوچنې شمېر، د تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره مرستندويه خدمات سره يوځای کړي دي؛ دبېلګې په ډول، د فيلاډيلفيا 211 تليفوني کرښه د ښخړې د مداخلې، د ځوانانو د تاوتريخوالي د مخنيوي، او د تاوتريخوالي د مخنيوي ټولنيزو سازمانونو ته د راجع کولو په اړه سرچينې چمتو کوي.[15] يو محدود شمېر مرستننديه تليفوني کرښې د راجع کولو او LA-ROC چې په لاس انجلس کې دی، د LA سره تړاو لري. 211 TVTPمعلوماتي خدمات وړاندې کوي، چې نبغ په نبغه د خدمات په خپله مرستندويه تليفوني TVTP) د نوښت د ملاتړ لپاره د Los Angeles Open, Resilient Communities( د ساينس او ټيکنالوژۍ د رياست په مرسته له تر سره شوې څېړنې سره يوځای، د جورجيا DHSکرښه کې شامل کړې دي. د ايالتي پوهنتون، د هدفي تاو تريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي د سرچينو لور ته د اړيکه نيونکو د راجع کولو لپاره د پاليسيو او ملاتړ کړی دی. په دې کوښښ کې د ليکلي پيغام پر اساس د مرستندويه تليفوني کرښې LA211کړنلارو په پلې کولو کې د ابتدايي ارزونه او د پروګرام د پراختيا د پروسې ارزونه هم شامل دي. وروستي راپور، چې په 2022 کال کې خپور شوی و، د ليکلي پيغام پر اساس د مرستندويه تليفوني کرښې د راجع کولو لپاره فرصتونه او ننګونې (چيلنجونه) په ګوته کړي، کوم چې د دې مقالې په پای کې تر بحث لاندې نيول شوی دي.

---

[8] مالي مرسته تر لاسه کړه.CP3 د DHS مالي کلونو کې د23 او 22په Parents for Peace

[9] مالي مرسته تر لاسه کړه.CP3 د DHS مالي کال کې د20 په Moonshot

[10] د رواني روغتيا لپاره ملي شورا، "په امريکا کې ډله ييز تاوتريخوالی: لاملونه، اغېزې او حل لارې،" 38.

سارا کی، تامپسن، ميشل ګروسمن او پال توماس، "اړتياوې، حقوق او سيستمونه: د تاوتريخوالي، ترهګرۍ او سياسي تاوتريخوالي د سخت دريځۍ

[11] په اړه د کاناډايي صميمي عيني شاهدانو د راپور ورکولو زياتېدل،"7.

ډايوډ پي. ايزنمن، سټيون واين، پال تاماس، ميشل ګروسمن، "د ټولنې د راپور ورکولو حد: د ترهګرۍ او هدفي تاوتريخوالي اړند چارواکو سره د

[12] معلوماتو شريکول،"3.

[13] الګا سيکنز، ماريون وين سان، سټين سيکلينک، ميکا ډي وينټر، "د سختدريځۍ په اړه د والدينو ليدلوري: يوه معياري څېړنه."

[14] تامپسن او همکاران. "اړتياوې، حقوق او سيستمونه،"7.

[15] د ښار د تاوتريخوالي د مخنيوي 24 ساعته بېړنۍ تليفوني کرښې سره اړيکه ونيسئ، ته مراجعه وکړئ | د جنايي عدالت دفتر | د فيلاډيلفيا ښار

دا څېړنه د تليفوني کرښې د اداره کونکو لپاره د ځانګړي هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د اندېښنو د لېږې کولو لپاره د پروټوکول د چمتو کولو پر اهميت رڼا اچوي. په دې موخه چې اداره کونکي د اړيکه نيونکو مختلفو ډلو اندېښنو (د بېلګې په ډول، بې کوره کېدل، رواني روغتيا، ازارول) ته رسېدګي وکړای شي. د جورجيا د ايالتي پوهنتون له خوا تر سره شوې څېړنه کې د ليکلي پيغام پر اساس اختياراتو په اړه سپارښتنه شوې چې اړيکه نيونکي د اړوندو سرچينو لور ته رهبري کړي، دا د دوی د پوښتنې تر ماهيت پورې اړه لري، همدا راز له اداره کونکو سره مرسته کوي چې د بحراني او غېر بحراني حالتونو تر منځ توپير وکړي.[16]

## د مالي مرستې پروګرامونه درې-عددي تليفوني (TVTP) هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ کرښو ته رسېدګي کوي.

او مشارکت مرکز، د يو کلنۍ مالي مرستې DHS د مالي مرستې د پروګرام عمومي کتنه: د مخنيوي د پروګرامونو لپاره د TVTPد د پروګرام لپاره غوښتنليکونه مني، کوم چې د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ مخنيوي ته ځواب وايي. [17] د مرستې د دې عامې سيالۍ له لارې، ګڼو برياليو غوښتنليکونو د پروګرام جوړولو وړانديز کړی دی، په کومو کې چې د درې-عددي تليفوني کرښو عناصر شامل دي، او دلته په لنډ ډول تشريح شوي دي:

، د ټولنې د (PBSO) د فلوريډا د پالم بيچ ولسوالۍ (د 21-23 او 23-25 کلونو جايزه): د پالم بيچ ولسوالۍ د شيريف دفتر شريکانو د يو کثير الرشتوي، ګڼ سکتوري ډلې سره په شريکه، د پالم بيچ ولسوالۍ ښوونځی او د ټولنې د تاوتريخوالي مخنيوي د مالي مرستې د برخې په توګه پراختيا ورکړې. د دې پروژې FY21 TVTPپروژه جوړه کړې، او دې پروژې ته يې د دوی د موخه دا ده چې په پراخه کچه د پالم بيچ ولسوالۍ د تاوتريخوالي د مخنيوي وړتياوې سره همغږې او ښې کړي. د دې ولسوالۍ د 211 مرستندويه تليفوني کرښه، کومه چې همدا راز د 988 ځانوژنې او بحراني مرستندويه تليفوني کرښې څخه هم اړيکې مني، په دې پراخو هڅو کې مدغمه شوې وه، چې د پالم بيچ ولسوالۍ بيداري او پاملرنه د ټولنې د بيدارۍ او پراختيا پروژه، او د ټولنې د همکارانو لپاره روزنه او تخنيکي مرسته هم پکې شامل دي.
[Aware and Care Palm Beach County]

SEFBHN او د ولسوالۍ د 211 مرستندويه تليفوني کرښې او د سويل ختيځې فلوريډا د چلند اړند روغتيايي شبکې (PBSO) د ګواښ د ارزونې د خپلو ټيمونو د ظرفيت د لوړولو لپاره د PBSOڅخه د پروژې شريکانو، ګڼې مهمې پايلې تر لاسه کړې. د ګواښ د ارزونې ټيمونه د PBSOمالي مرستې له لارې تمويل شوي د دوه (2) پلټونکو (څېړونکو) خدمات تر لاسه کړل؛ د هغو خلکو راپورونو ته ځواب وايي چې ښايي په ټولنه کې په راتلونکي کې د تاوتريخوالي د يو کار تر سره کولو له خطر سره مخ د ګواښ ارزونې ټيم کارمندان د 211 مرستندويه تليفوني کرښې د 32 کارکونکو لپاره څلور روزنيزې ناستې تر PBSOوي. د سره کړې، په کومو کې چې هغوی ته اړين معلومات ورکړل شول، تر څو وکولای شي په پراخه کچه د تاوتريخوالي اړوند مداخلت او راپور ورکولو د اختياراتو لپاره د احتمالي ګواښ نښې معلومې کړي. له 164 څخه ډېر د ټولنې غړيو او د چلند اړوند روغتيايي متخصصينو د عيني شاهدانو روزنه بشپړه کړه او 14 افرادو ته تصديق ورکړل شو چې په ټولنه کې عيني د ګواښ ارزونې ټيمونو، د احتمالي تاوتريخوالي له خطر سره مخ افراد د دې پروژې PBSOشاهدانو ته روزنه ورکړي. د ته راجع کړل، کوم چې په پالم بيچ ولسوالۍ کې د چلند اړوند روغتيايي پاملرنې د خدماتو اداره کونکې اداره SEFBHNشريک د ثبوت پر اساس عمل کونکې اداره ده، پاملرنه همغږې کوي، او افراد نېغ په نېغه د ټولنې له کارمندانو سره SEFBHNده. له متقاطعو PBSO د پروژې د مودې په دوران کې، 75 افراد خدماتو ته راجع کړي وو. بالاخره، SEFBHNوصل کوي. شريکانو سره هوکړه ليک لري، چې د قانون پلي کونکې او د چلند اړوند روغتيايي خدماتو چمتو کونکې پکې شامل دي، کوم چې هغه دندې او مسئوليتونه مشخص کوي، چې د همکاريو او همغږيو ستراتيژيانو ته وده ورکوي.

---

[16] کې شته، او عامو خلکو ته د غوښتنې پر مهال ورکول کېږي.DHSد جورجيا ايالتي پوهنتون بشپړ راپور په
[17] [هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ مخنيوي متقاضيانو د مالي مرستې پروګرام د متقاضي سرچينې | کورني امنيت (dhs.gov)]

**د سویلي کارولینا، د چارلسټن ولسوالۍ (د 22-24 کلونو جایزه):** د چارلسټن ولسوالۍ د 463 لومړیو ځواب ویونکو او د هدفي تاوتریخوالي او ترهګرۍ په اړه د بیدارۍ او د خطر د ارزونې د رواني روغتیا مختصصینو په روزنې سره د سیمه ییز مخنیوي په اړوند د خپلو ظرفیتونو په پرمختګ کار کوي. د دې شریکې روزنې موخه د پوهې لپاره د شریک اساس، ژبې پیدا کول او په اغزناک ډول د هدفي تاوتریخوالي په مخنیوي کې د دندو په اړه پوهېدل دي. دا کار د یو کثیر الرشتوي ټیم له خوا رهنمايي کېږي، او خپل کارکونکي په روزنه کې شاملوي. د قانون پلې کونکې، د چارلسټن ولسوالۍ بېړني طبي خدمات (EMS)، د چارلسټن ولسوالۍ 911 همغږۍ مرکز، د چارلسټن ډارچیسټر رواني روغتیايي مرکز، او د چارلسټن مرکز (د الکولو او نورو نشه يي توکو د ناسم استعمال د خدماتو ډیپارټمنټ)، اوسمهال په دې کې شاملې اداري دي. د دې مالي تمویل په واسطه، د چارلسټن ولسوالۍ (Charleston County) موخه دا ده، تر څو لومړي ځواب ویونکي او معالجین په لاندې ورتیاوو سینګار کړي:

1. د چلند اړوند روغتیا مراجعین وپېژني، څوک چې ښايي د هدفي تاوتریخوالي د خطر نښې څرګندوي؛
2. د چلند اړوند روغتیا مراجعینو ارزونه وکړي، تر څو د شته خطر اندازه معلومه کړي؛
3. د خوندیتابه پلانونه پلې کړي، تر څو هغه مناسبه پاملرنه او خدمات وړاندې کړي، چې ښايي له خطر سره مخ خلک ورته اړتیا ولري، تر څو د خوندیتابه عوامل زیات کړي او د خطر عوامل کم کړي.

سربېره پر دې، په دې مالي مرسته کې د اوسنیو پروټوکولونو او کړنو ارزونه هم شامله ده، کوم چې د شریکانو له خوا کارول کېږي، تر څو اوسنۍ پیاوړتیاوې او تشې په نښه کړي. د چارلسټن ولسوالۍ د بېړنیو اړیکو متحد شوی مرکز (911)، د دې کثیر الرشتوي کار د همغږي کونکې په توګه دنده ترسره کوي. دا ارزونه به د پیاوړې همکارۍ او راجع کولو د پروټوکولونو د جوړولو لپاره د ښه پلې کولو د پلان په اړه خبر ورکړي. دا کار د ولسي خوندیتابه او رواني روغتیا وړاندې کونکو پر یو پیاوړي سیمه ییز تاریخ ولاړ دی، کوم چې خلکو ته د تر ټولو غوره پاملرنې وړاندې کولو په موخه په شریکه کار کوي، په داسې حال کې چې د ځواب ویونکو خوندیتوب او په ټوله کې د ټولنې خوندیتوب ډاډمنوي.

**واشنګټن ډي سي (د 22-24 کلونو جایزه):** د کولمبیا ولسوالۍ د کورني امنیت او بېړنیو حالاتو د مدیریت اداره (HSEMA) ژمنه ده چې د هغو هڅو د ملاتړ په واسطه ټولو اوسېدونکو ته خوندي او با ثباته ټولنه چمتو کړي، د کومو هڅو په نوم اداره جوړه [Protect DC](https://hsema.dc.gov) د HSEMAپه مټ چې وکولای شي هدفي تاوتریخوالي ته ځواب ووايي او مخه یې ونیسي. کړې، کومه چې په ټول ښار کې د کثیر الرشتوي ګواښ د ارزونې او مدیریت پروګرام دی، کوم چې د عامې روغتیا له لیدلوري څخه ګټه اخلي، تر څو د یو فرد د تاوتریخوالي یا جدي زیان د خطر ارزونه وکړي، معلومات شریک کړي، او سرچینې اوخدمات منسجم کړي.[18]

دا پروګرام همکارانو او اجرااتو کونکو ته د چلند اړوند خطر د تشخیص او مدیریت د روزنې د تطبیق او د ښار د شته درې-عددي تليفوني کرښې د بدلون د خدماتو، لکه 311 او 911 په مرسته، د پروټوکول جوړولو لپاره کار کوي، تر څو د اړیکه نیونکو په پېژندګلو او په معلوماتو ورکولو کې مرسته وکړای شي. د دې پروګرام موخه د شکمن فعالیت لپاره د معلوماتو ورکولو د پروسې ساده کول، د خطر د ارزولو او مدیریتي سرچینو او خدماتو پورې په چټکۍ سره د راجع کولو ډاډمنول هم دي، چېرته چې ښايي دې سرچینو ته اړتیا وي.

[18] [د TVTP کورني امنیت | کورني امنیت او بېړنیو حالاتو د مدیریت اداره :د کولمبیا ولسوالۍ د کورني امنیت او بېړنیو حالاتو د مدیریت اداره د مالي مرستې تر لاسه کونکي کیسه (dhs.gov)]

## يوه کاناډايي بېلګه :

**: InfoSante Quebec** د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي لپاره د درې-عددي تليفوني کرښو څخه د ګټې اخيستلو په نوم يادېږي، InfoSanteهڅې په متحده ايالاتو کې بې ساري نه دي. د کاناډا په کبک کې، د 811 يوه تلفيوني کرښه چې د يوه وړيا او محرمه مرستندويه تليفوني کرښه چمتو کوي، چې په ورځ کې 24 ساعته، د اونۍ په اوو ورځو کې، اړيکو ته د ځواب ويلو لپاره پرانيستې ده. دا تليفوني کرښه ټولو ته روغتيايي مشورې او د راجع کولو خدمات، له 0 څخه تر 17 کاله عمر لرونکو ماشومانو لپاره د روغتيا يوه تليفوني کرښه، د نفسياتي او رواني روغتيا مشوره او د راجع کولو تليفوني کرښه چمتو کوي، او بالاخره د راجع کولو يوه تليفوني کرښه د هغو خلکو لپاره ده چې د کورنۍ د يو ډاکټر لپاره په انتظار وي. د 811 تليفوني کرښه د روغتيا او ټولنيزو خدماتو په وزارت کې موقعيت لري، او دا د عامې روغتيا، رواني روغتيا ټولنيزو او ټولنې ، د مونټرال InfoSanteخدماتو له يوې پراخه شبکې سره وصل ده، کومه چې کولای شي د مخنيوي له هڅو ملاتړ وکړي. )، له هغه وروسته يو CPN-PREVټولنيزې قطب سازۍ ټيم او د سخت دريځۍ د مخنيوي لپاره د کاناډايي ډاکټرانو شبکې ( شراکت جوړ کړ، کله يې چې د هغو خلکو له خوا اړيکې تر لاسه کړې، څوک چې د خپلو ملګرو او عزيزانو په اړه اندېښمن وو، InfoSanteچې ښايي دا ملګري او عزيزان يې د تاوتريخوالي تر حد پورې سخت دريځي کېدل. د مونټرال قطب سازۍ ټيم له څخه ټولنيزو کارکونکو ته روزنه ورکوي، او ډاډمنوي چې دوی د پراخه او ډول ډول شريکانو ته لاسرسی لري، څوک چې د د شريکانو د لارښوني په CPN-PREV اوس د InfoSanteهدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي له هڅو څخه ملاتړ کوي. څخه د راجع کولو InfoSanteکتاب کې شامل شوی دی، تر څو خلک وپوهېږي چې دوی کولای شي په مستقيم ډول له خدماتو ته لاسرسی لري.

مدغم کول يو مخ پر وده عمل دی، په شمالي TVTPپايله: سره له دې چې د معلوماتو په درې-عددي تليفوني کرښو کې د امريکا کې ګڼو پروګرامونو، د تلفيوني کرښو په موجودو پروټوکولونو کې د دې معلوماتو د شاملولو په اړه د هڅونکو پايلو راپور ورکړی دی. د دې پروګرامونو ابتدايي ارزونې، د اغېزمنتيا تر لاسه کولو لپاره د روزنې، د سرچينو چمتوالی، او بيدارۍ زياتولو د په سياق کې د مرستندويه تليفوني کرښو پر اغېز څېړنه محدوده TVTPهڅو اړتيا ته اشاره کړې ده. دا منل هم اړين دي چې د ده. په هر حال، د نړېدې بحران د مخنيوي په برخو کې، څېړنو مثبتې پايلې ښودلې دي. د بېلګې په ډول، څېړنو ښودلې ده چې د درې-عددي ځانوژنې د مخنيوي مرستندويه تليفوني کرښې د ځانوژنې د خطر په کمولو کې ګټورې ثابتېدای شي. [19]

فرصتونه: په ملي او سيمه ييزه کچه د اړوندو کارمندانو پېژندل، او د خدماتو له دې کارمندانو سره د تليفوني کرښې وصل د پروټوکول په جوړولو کې مرکزي حيثيت لري. په جورجيا ايالتې TVTPکول، د موجود درې-عددي چوکاټ په  داخل کې د پوهنتون کې د څېړنې ټيم په لاس انجلس کې د خپل کار پر مهال وليدل چې د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ اړوند مخنيوي خدماتو په اړه پوهاوی، د تليفوني کرښې د مديرانو لپاره يوه مهمه ننګونه وه، لکه د اړوندو عيني شاهدانو لپاره سرچينې. [20] درې-عددي تليفوني کرښې له يوې بلې ننګونې (چيلنج) سره هم مخ دي، چې هغه د ټولنې بيداري او منل دي، کوم چې د تبليغاتي کمپاينونو او سيمه ييزو شريکانو په مټ د معلوماتو د تبادلې له لارې کمېدای شي. مالي تمويل، د کارمندانو ټاکل، او مناسبه شخصي روزنه هغه اضافي ننګونې دي، چې بايد په پام کې ونيول شي. درې-عددي تليفوني کرښې بايد د محرميت اندېښنو ته هم اهميت ورکړي، په ځانګړې توګه د ليکلي پيغام تليفوني کرښې، تر څو ډاډ ورکړي چې د ژر پېښېدونکي تاتريخوالي د خطر راپور په سم ډول ورکړل شوی؛ نو د افرادو حقوق خوندي دي.  راتلونکي ته په کتنې سره، د پرمختګ لپاره

---

[19] کيلي ميزر، ميګن او ريوردن، الن ووډوارډ، او ډيبرا ريکووډ، "د کارونکي د توقعاتو او د بحراني ملاتړ خدماتو د پايلو يوه منظمه بيا کتنه"، 465. همدا راز وګورئ .McKeon, R. (2018) او Gould, M.S., Lake, A.M., Galfalvy, H., Kleinman, M., Munfakh, J.L., Wright, J، د ځانوژنې د مخنيوي ملي بېړنۍ تليفوني کرښو د اړيکه نيونکو سره تعقيب کړئ: د پاملرنې په اړه د اړيکه نيونکو د پوهې او ادراک ارزونه. د ځانوژنې د ژوند د ګواښ چلند،
.86 -75 :48https://doi.org/10.1111/sltb.12339

[20] ، " د ليکلي پيغام پر اساس فعال شوي د خطر سره د مخ خلکو د پېژندنې مداخله"، DHS S&T.4

په شته فرصتونو کې د تليفوني کرښو تر منځ د همغږۍ پراختيا شامله ده، لکه د 911 او 988 شمېرو تر منځ، تر څو باوري شي چې د بحران سره د مخ شویو خلکو اړتیاوې د مناسبو سرچينو په مټ پوره شوي دي. [21]

## اضافي سرچينې :

### د CP3 سرچينې

د کورني امنيت د وزارت د مخنيوي پروګرام او مشارکت مرکز (CP3) د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د فعاليتونو د مخنيوي او په هغې کې د کمښت سرچينې چمتو کوي. په سرچينو کې، ستاسو د ايالت په خونديو کولو کې د مرستې لپاره په ټول هېواد کې د کارمندانو ملاتړ، مالي تمويل، او روزنه او تعليمي مواد شامل دي.

د سيمه ييز مخنيوي همغږي کونکي، په ايالتي او سيمه ييزه کچه د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي د هڅو ملاتړ کوي. دوی معلومات شريکوي، روزنې ورکوي، او د ټولنې د هغو شريکانو لپاره د شبکو په جوړولو کې مرسته کوي، څوک چې د مخنيوي په چاره کې ښکېلېدای شي. د نورو معلوماتو لپاره، له دې ويبپاڼې څخه ليدنه وکړئ www.dhs.gov/cp3، او يا د CP3 د سيمه ييز مخنيوي همغږي کونکي سره په دې برېښنا ليک اړيکه ونيسئ cp3field@hq.dhs.gov.

د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي د مرستې پروګرام د ايالتي، سيمه يزو، قبيلوي، او ساحوي دولتونو غېر انتفاعي ادارو، او د لوړو زده کړو ادارو ته مالي مرسته برابروي، تر څو د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي لپاره ظرفيتونه جوړ يا وده ورکړي. د نورو معلوماتو او غوښتنليک لپاره له دې ويبپاڼې ليدنه وکړئ، يا په www.dhs.gov/tvtpgrants برېښنا ليک د مالي مرستو له ټيم سره اړيکه ونيسئ.terrorismprevention@hq.dhs.gov

» د اړينو سرچينو په اړه عامه معلومات چمتو **The Prevention Resource Finder** د مخنيوي د سرچينې موندونکی « کوي، تر څو زموږ په ټول هېواد کې د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ لپاره په چمتوالي او مخنيوي کې مرسته وکړي. په ويبسايټ کې شته سرچينو کې د ټولنې د ملاتړ سرچينې، د مالي مرستې فرصتونه، د معلوماتو د شريکولو مواقع، د شواهدو پر اساس څېړنه، او د روزنې فرصتونه شامل دي، تر څو د کرکې پر اساس د هدفي تاوتريخوالي په ګډون، د هدفي تاوتريخوالي خطر کم کړي. نور معلومات په دې ادرس تر لاسه کولای شئ: د مخنيوونکې سرچينې موندونکی: | کورني امنيت (dhs.gov)

[21] https://www.samhsa.gov/find-help/988/faqs#differences ته مراجعه وکړئ. بحران ته د ځواب ويلو تليفوني کرښو تر منځ د همغږۍ د زياتولو د څېړنې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په خپل وخت او مناسب ډول د رواني روغتيا بحراني حالت ته ځواب ويلو د ډاډ تر لاسه کولو لپاره 988 او 911 همغږۍ ته وده ورکول وګورئ | روغتيايي چارې.